
پوهندوی آصف بهاند

# اوسني فرهنګي بهير او پښتو ادب

## يو زړه سواندی خدمتګار له لاسه ورکړ

## (د پروفيسر ولي محمد خان سيال کاکړ مړينه)




نامتو فولکلوريست، ولي محمد سيال کاکړ وفات شو.

**انا لله و انا اليه راجعون .**

پروفيسر سيال کاکړ په اوسني فرهنګي بهير، په تېره پښتو ادب کې يو لوی او مطرح شخصيت دی. سيال د پښتني فولکور په برخه کې دومره کار کړی دی چې په اوسني وخت کې د ده نوم له پښتني فولکلور سره تړلی ګڼل کېږي.

سيال کاکړ په اوسني ادبي بهير کې يو له هغو شخصيتونو څخه و چې په يوازې تن يې د يوې لويې فرهنګي مؤسسې او يوې اکاديمۍ په اندازه کار کړی دی.

مګر له بده شامته چې اوسني فرهنګي بهير او پښتو ادب خپله دا لويه هستي له لاسه ورکړه او همدا نن (د ۲۰۲۲ م کال د جون پر اتلسمه) د دې لوی خدمتګار د مړينې خبر ميډيا خپور کړ.




ازادي راديو ويبپاڼې د پروفسر سيال کاکړ د مړينې په باب داسې وليکل:

«د پښتو ژبې نوميالی ليکوال، څېړونکی او فلکوريست ولي محمد سيال کاکړ تر څو کلني ناروغۍ وروسته نن د ۷۸ کالو په عمر ومړ.

پوهاند ولي محمد سيال کاکړ چې په ۲۰۱۷ ميلادي کال کې د افغانستان پخواني ولسمشر محمد اشرف غني د سيد جمال الدين افغان عالي دولتي مډال ورکړی و نن د ۸۷ کالو په عمر د کويټې په يو روغتون کې ومړ.

د طالبانو په مشرۍ د افغانستان د علومو اکاډمۍ د هغه په مړينه خواشيني ښودلې په يوه اعلاميه کې يې ويلي دي، چې هغه د پښتو ژبې اړوند ډېرې څېړنې کړي او بېلابېل اثار يې ليکلي دي.

ګڼو افغان ليکوالو او څېړونکو د ښاغلي سيال مړينه د پښتو ادب لپاره لويه ضايع بللې ده.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ پخوانی او د سيمه ييزو مطالعاتو اوسنی رييس ظاهر شکيب وايي، ښاغلي سيال کاکړ د خپل عمر په وروستيو کې خپل ټول قلمي اثار او بشپړ کتابتون چې زرګونه مهم او تاريخي اثار په کې وو د افغانستان علومو اکاډمۍ ته ډالۍ کړل، چې دلته ترې ګټه اخيستل کېږي.

هغه وويل: "ده خپل ډېری اثار د افغانستان کې علومو اکاډمۍ ته ډالۍ کړي چې په دې کې ۱۳۳ قلمي نسخې، او څه دپاسه ۴۵۰۰ عنوانه کتابونه دي، قلمي نسخې په ارګ کې خوندي دي او کتابتون اوس په علومو اکاډمۍ کې خوندي دی، او افغانان ترې ګټه اخلي".

افغان ليکوال او څېړونکی داوود عربزی وايي، سيال کاکړ د پښتو د فلکور او دغه شان تاريخ پوهنې په برخه کې يو بې سارې متخصص و چې ښايي بيا تکرار نه شي.

هغه وويل: "سيال کاکړ په خپل دې اوږد عمر کې پښتو ژبې ته بې سارې خدمتونه وکړل، په ځانګړي ډول د فلکور او قلمي نسخو د راټولولو په برخه کې، دې د عمر تر پايه له ادب سره تړلی پاتې شو، او د ژبې او ادب د پاللو هڅې يې وکړې."

پوهاند ولي محمد سیال کاکړ په ۱۹۳۵ میلادي کال د پاکستان د پښین په سیمه کې زیږدلی و، لومړنی زده کړې یې همدغلته په خپل کلي کې کړې وې، خو وروسته د کویټې، پېښور او پنجاب پوهنتونونو ته د نورو زده کړو لپاره تللی و.

نوموړي په پښتو، دري او اردو ادبیاتو کې درې ماسټریانې کړې وې.

نوموړی په ۱۹۶۴ میلادي کال په بلوچستان پوهنتون کې دنده پیل کړه او په دغه پوهنتون کې د نوموړي په هڅو د پښتو ژبې او ادب څانګه جوړه شوه چې تر ۲۰۰۰ میلادي کال پورې په کې هغه د استادی دنده درلوده.

ښاغلي سیال کاکړ تر څلویښتو ډېر کتابونه لیکلي، چې ډېری یې خپاره شوي دي.

نوموړي تر ډېره د ولسي ادب په برخه کې څېړنې کړې وې.

هغه شاعري هم کوله او د شعرونو څو ټولګې یې خپرې شوي دي.

نوموړی د پښتو تر څنګ په اردو، فارسي، بلوچي، پنجابي، براهوي او انګلیسي ژبو رواني خبرې کولای شوی.

د پښتو ترڅنګ یې د "گنجینه ادب" او "خزینه دانش" په نوم په فارسي ژبې هم دوه کتابونه لیکلي او خپاره کړي دي.»

د پروفیسر سیال کاکړ د مړیني له خبر سره سم د ده عکسونه او لنډه بیوګرافي په میډیا کې په ګڼو ادرسونو کې خپره شوه. ما ژر ویکیپیډیا ته سر ورښکاره کړ، هلته هم په لنډ ډول معرفي شوی و او د څو کتابونو نومونه یې هم اېښودل شوي دي.

لنډه بیوګرافي او د چاپ شوو اثارو نومونه یې په یوه فیسبوکپاڼه کې داسي راوړل شوې ده:

«سیال کاکړ څوک دی؟
پوهاند سیال کاکړ) په انګري (Syal Kakar) د د کوټې سیمې یو له لومړنیو لیکوالانو دی چې د پښتو شفاهي ادبیاتو پټه خزانه یې رابرسېره کړې ده.
پوهاند ولي_محمد_خان چې د سیال کاکړ په نامه پېژنګلوي لري په ۱۹۳۵ م کال د پښین په سرانانو کې زیږېدلی دی.

زده_کړې:
لومړنی زدکړې یې په خپل کلي او پښین کې ترسره کړې او وروسته د لوړو زدکړو لپاره د کوټې پېښور او د لاهور پنجاب پوهنتون ته تللی دی. پوهاند سیال کاکړ په پارسي، پښتو او اردو ژبو کې د ماسټرۍ ډګرۍ تر لاسه کړې دي، همدارنګه یې د (بي اې) بریلیک هم د پنجاب له لایلپور (فیصل اباد) ښاره تر لاسه کړی دی. نوموړی د پښتو تر څنګ په پارسي، اردو، براهوي، انګرېزي او پنجابي ژبو هم ښه پوهېږي او رواني خبرې په کولای شي.

دندې:
په۰ ۱۹۶۴ م کال یې د استاد په توګه پر خپل کار پیل وکړ.نوموړي ولسي پښتو ادبیاتو ته بې سارې خدمت کړی.

پښتو_ادب_کې_ونډه:

ښاغلي کاکړ د پښتو پر فولکلوري ادب او دغه ډول نورو ادبي برخو کې تر ۳۶ ډېر کتابونه لیکلي دي.دی د کوټې سیمې یو له لومړنیو لیکوالانو دی چې د پښتو شفاهي ادبیاتو پټه خزانه یې رابرسېره کړېده .هغه له ژوبه تر بورۍ او دغه ډول له سیوۍ تر کندهار په لر او بر کې د ولسي ادبیاتو ورکه شاعري په خپلو لیکونو کې د تل لپاره ژوندۍ وساتله. هغه تر خپله وسه د پښتنو په لر اوبر کې خوله په خوله ویل شوې لنډۍ، کاکړۍ غاړې ، ،انګۍ ،متلونه، ساندې ، برغازۍ ،چیغیان راټول کړي او د تاریخ پاڼو کې یې ژوندۍ ساتلي دي.

(غاړې) کاکړۍ غاړې او څېړنه
پښتني افکار (پښتو کیسۍ)
سپېڅلي ګایونه (متلونه)
چیغیان (د پښتني فولکلور یو ډول)
ګراني ملغلري (شعري ټولګه)
پښتني جام (شعري ټولګه)
پښتني فولکلور
ملي دردونه (شعري ټولګه)
غورځنګ (شعري ټولګه)
کاکړۍ (کاکړۍ غاړې)
ترینو (د ونېڅي لهجې په اړه څېړنه)
ملي ادب (متلونه)
مزارات (د سهېلي پښتونخوا د بېلابېلو سیمو مزارات)
د کسې د لمنې پښتو ژورنالیزم
پښتني نومونه
پښتو مترادفات
فولکلوري طب
ادبي څېرې (انځوریزه تذکره)
د کسې د لمنې پښتانه لیکوال (ادبي تذکره، دوه ټوکه)
پښتو او پښتانه په سهېلي پښتونخوا کې (دوه ټوکه)
فولکلوري سوغات (د اتڼ نارې)
فولکلوري سندرې
پښتو نکلونه
فولکلوري جواهر (د ښادۍ بدلې)
د کوشنیانو ادب
د کوشنیانو ژبه
انګۍ (د پښتني فولکلور یو لرغونی او په زړه پورې منظوم ډول)
منظومه تذکره
ادبي انځور (مقالې)
سنګر (شعري ټولګه)
کاکړي (د کاکړۍ لهجې په اړه څېړنه)
نثري انځور (مقالې)
پخوانۍ غاړې (ازادې غاړې)
غوره انځور (شعري ټولګه)

گنجینه ادب فارسی (فارسي مقالي)
خزینه دانش (فارسي مقالي)
زرین انځور (مقالي)

د ده د پخوانیو انتیریوګانو په لړ کې یو هم د بي بي سي پښتو له «اومه ستدیو» نومې پروګرام سره مرکه ده. پروفیسر سیال کاکړ کله چې د ۲۰۰۸ ام کال په جنوري کې د بي بي سي پښتو د اومې ستدیو میلمه و، هغوی د مقدمې په ډول سیال کاکړ داسې خپلو اورېدونکو ته وروپېژندلی دی:

«پروفېسر سیال کاکړ مو د اوومې سټوډیو مېلمه دی.

پروفېسر ولي محمد خان چې دسیال کاکړ په نامه پېژنګلو لري په
۱۹۳۵کال د پشین په سرانانو کې زېږدلی او لومړنۍ زدکړې یې په خپل
کلي او پشین کې ترسره کړې او وروسته د لوړو زدکړو لپاره دکوټې پېښور او د پنجاب لاهور پوهنتون ته تللی دی.
دسیال کاکړ په اوومه سټوډیو کې.

په ۱۹٦٤ م کال یې د استاد په توګه پر خپل کار پیل وکړ. نوموړي ولسي پښتو ادبیاتو ته بې ساری خدمت کړی.
ښاغلي کاکړ د پښتو پر فولکلوري ادب او دغه ډول نورو ادبي برخو کې تر ۳٦ ډېر کتابونه لیکلي دي. دی د کوټې سیمې یو له لومړنیو لیکوالانو دی چې د پښتو شفاهي ادبیاتو پټه خزانه یې رابرسېره کړېده .هغه له ژوبه تر بورۍ او دغه ډول له سیوۍ تر کندهار په لراو بر کې د ولسي ادبیاتو ورکه شاعري په خپلو لیکونو کې د تل لپاره ژوندۍ وساتله.هغه تر خپله وسه د پښتنو په لر اوبر کې خوله په خوله ویل شوې لنډۍ، کاکړۍ غاړې ، ،انګۍ ،متلونه،ساندې،برغازۍ ،چیغیان راټول کړي او د تاریخ پاڼو کې یې ژوندۍ ساتلي دي.
د نوموړي د ځینو لیکلیو کتابونو نومونه په دې ډول دي.
غاړې د نوموړي لومړۍ کتاب او غور انځور دهغه وروستی کتاب ، د کوچینانو ادب،پخوانی غاړې ،
د کسي دلمني پښتانه لیکوال،پښتو او پښتانه په سویلي پښتونخوا کې،
انګۍ .چیغیان،د کسي د لمني پښتو ژورنالیزم ،پښتني فولکلور ،پښتني جام
ملي دردونه،غورځنګ،ترینو،کاکړۍ ،کاکړي ګرډود ،فولکلوري طیب،فولکلوري سوغات،پښتو
نکلونه،فولکلوري جواهر،د کوچینانو ژبه،ادبي انځور ،سنګر،نثري انځوراو دغه ډول ځیني نور کتابونه یې لیکلي دي...»
په یوتیوب کې یې د بشپړې بیوګرافۍ ویډیو موجوده ده، مینوال کولای شي په لاندې لینک کې وګوري:

https://www.youtube.com/watch?v=afIunfGjvTw&ab_channel=PashtoResearchAcademy

استاد سیال کاکړ خپل ټول فرهنګي ژوند پښتو ژبې ته د کار لپاره وقف کړی و. په میډیا کې یې د اوه دېرشو چاپي کتابونو خبره شوې ده، خو داسې ویل کېږي چې یو څه ناچاپ اثار هم ورنه پاتې دي.

پروفیسر سیال کاکړ په ۱۹۶۴ میلادي کال په بلوچستان پوهنتون کې د لکچرر په توګه دنده پیل کړه او په دغه پوهنتون کې یې د پښتو ژبې او ادب څانګه پرانسته.

موږ د لوړو زدکړو په دواړو دورو (لیسانس ـ ماستري) کې د «فولکلور پېژندنه» مضمون درلود. دا مضمون په لیسانس دوره کې استاد حبیب الله جاج پښتونزوی او په ماستري دروه کې استاد محمد صدیق

روهي موږ ته تدریساوه. دوارو استادانو به د فولکلور په برخه کې د سیال کاکړ د لیکلو اثارو او راټولو کړو موادو په باب لکچرونه وړاندې کول او دا به یې ویل چې سیال کاکړ په یوازې ځان بیخي ډېر کار کړی دی.

ما (اصف بهاند) چې د شپېتمي لسیزې په پیل کې د خپل یو کتاب (کوچنیانو ادبیات) لیکل پیل کړل، زما د مأخذونو په لست کې د پروفیسر سیال کاکړ د «د کوشنیانو ادب» د فهرست په سر کې ځای درلود. د سیال کاکړ د دې اثر په باب ما ېنځه دېرش کاله پخوا داسې لیکي وو:

«په پښتو ادبیاتو کې د کوچنیانو د ادبي تاریخ او د کوچنیانو د ادب د تیورۍ په برخه کې د پاملرنې وړ اثر د ښاغلي سیال کاکړ «د کوشنیانو ادب» دی. پروفیسر سیال کاکړ د خپلو ژورو علمي او په زړو پورو تحقیقاتو په لړ کې، کوچنیان هم هېر نه کړل، دوی ته یې هم پاملرنه وکړه، د دوی ادب او روحي دونیا ته. پروفیسر سیال کاکړ د کوچنیانو د ادب په برخه کې خپل لومړنی تحقیقي اثر په ۱۹۷۹ کال کې «د کوشنیانو ادب» په نامه چاپ او خپور کړ...»

(بهاند آصف، د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو دولتي کومیټه، دولتي چاپخونه، ۱۳۶۶ ام کال، ۱۵۷ ام مخ)

سیال کاکړ له افغانستان او افغانانو سره ځانګړې مینه درلوده، د همدې مینې له مخې یې په یوه بیساري اقدام سره خپل کتابتون د افغانستان د علومو اکادیمۍ ته ډالۍ کړ. په ۲۰۱۹ ام کال کې ښاغلي کاکړ خپلې ۱۳۳ خطي نسخې او ۴۶۰۰ عنوانه کتابونه د افغانستان علومو اکاډمۍ ته وروسپارل.




کله یې چې یاد قلمي او چاپي اثار د افغانستان علومو اکادیمۍ ته وسپارل، په میډیا کې یې خبر په دې بڼه خپور شو:

«پوهاند سیال کاکړ په زرګونو کتابونه د افغانستان علومو اکاډمۍ ته وسپارل،

دکوزي پښتونخوا تکړه لیکوال او څېړونکي پوهاند سیال کاکړ د خپل کتابتون ۱۱۳ قلمي نخسې او ۴۶۰۰ کتابونه د افغانستان د علومو اکاډمۍ ته وسپارل.

تېره ورځ په دې تړاو په کابل کې یوه غونډه هم جوړه سوې وه، چې د ولسمشر اشرف غني په ګډون پکې ګڼو ادیبانو او پوهانو ګډون کړی وو.

په دغه غونډه کې ولسمشر غني وویل: "نن ټولو ته د خوښۍ ورځ ده چې زموږ د ستر شخصیت سیال کاکړ معنوي پانګه او خزانه خپل تاریخي کور افغانستان ته سپارل کیږي. پروفیسور سیال کاکړ خپل ټول ژوند د پښتو ژبې ودې، د افغانستان تاریخي هویت او د ځوانانو روزنې ته وقف کړی وو."




غونډې ته په علمي او ټولنیزو چارو کې د ولسمشر غني سلاکار ډاکټر لال پاچا ازمون وویل، د سیال کاکړ کتابتون او قلمي نسخې یې د ولسمشر غني په مرسته او لارښوونه کابل ته ولېږدول. ښاغلي ازمون د پوهاند سیال کاکړ مننه وکړه چې وایي په خپلو شخصي پیسو اخیستې پانګه یې وړیا افغانستان ته وسپارله. ډاکټر ازمون وویل:

"د پښتو، دري او عربي ژبو پر دغو ۱۳۳ قلمي منظومو او منثورو نسخو سربېره چې له ۲۰۰ تر ۳۰۰ کاله پورې تاریخي مخینه لري، د نوموړي د کتابتون ۴۶۰۰ بېلابېل کتابونه او مجلې علومو اکاډمۍ ته وسپارل سوې."

ولسمشر اشرف غني لارښوونه وکړه، چې په کوټه ښار کې د افغان قونسلګرۍ ودانۍ دې د سیال کاکړ په نوم د افغانستان پېژندنې مرکز او د کلتور کور سي. علومو اکېډمي دې د ښاغلي سیال کاکړ په نوم ځانګړي کتابتون ته د کونړ د لرګي لوحه- چې نوموړی ورسره ځانګړې مینه لري- جوړه کړي.




ولسمشر غني د کابل د اریکایوز چارواکو ته لارښوونه وکړه، چې د پروفیسر سیال کاکړ د قلمي نسخو په ګډون ټولې قلمي نسخې دې و رغوي او سکین دې یې کړي او د هغو یوه یوه کاپي دې د کندهار، ننګرهار، بلخ، هرات او بامیانو پوهنتونونو ته ورکړي چې په اساسي توګه وربانديې کار او څېړنې وسي.

پوهاند سیال کاکړ ته د ولسمشر لخوا د سیدجمال الدین افغاني مډال هم ورکول سو.

۸۴ کلن ولي محمد خان سیال کاکړ د کوزې پښتونخوا د پښین ولسوالۍ په سرانانو کلي کې زو کړی او په بېلابېلو کالجونو او پوهنتونو کې یې د پښتو ژبې خدمت کړی دی.»

د استاد سیال کاکړ د مړینې خبر په خپرېدو سره په بېلابېلو پتو کې د قلموالو د خواشینۍ پیامونه خپاره شول، دا یې دوې بېلګې دي:

ډاکتر لطیف یاد:

«په ډېرې خواشینۍ سره موخبر تر لاسه کړ چې د جنوبی پښتونخوا نامتو څېړونکي، تاریخپوه او فولکلوریست ښا غلي پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ چې دپښتو او پښتنو په اړوند یې ډیرې څېړنې کړې دي له دې فاني نړۍ سره خدای پاماني وکړه . دده مړینه پښتو ادب او تاریخ ته ستره ضایعه ده .
لوی خدای دې وبخښي!
اروابناد سیال کاکړ پر پښتو ژبې ډېر احسانونه کړي دي.»

عبدالهادي هادي:

«مرګه ورک شې څومره سم سړی دې یوړو
څومره درونډ او محترم سړی دې یوړو
د ځوانانو یو ریښتینی آموزګار وو
د کتاب او د قلم سړی دې یوړو
قیام

په ډېره خواشینۍ مو خبر تر لاسه کړ چې نن د ۲۰۲۲ د جون پر اتلسمه ، په جنوبي پښتونخوا کې ، د پښتو تر ټولو مطرح فوکلوریست، یاد شاعر، لیکوال او استاد، پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ له خپلو کمزوره شویو اوږو د ژوند بار کوز کړ او په ابدي سفر ووت.

اناالله و انااليه راجعون

ارواښاد پروفیسر ولي محمد خان سیال کاکړ په ۱۹۳۵ عیسوي کال د جنوبي پښتونخوا د پښین د سرانانو په کلي کې د ارواښادعبدالرحمن خان کاکړ کره زیږېدلی، په پښتو، اردو او فارسي کې یې لوړې زده کړې کړي او کلونه، کلونه د ځوان نسل په روزلو بوخت پاتې شوی وو، د کالجونو استادي یې کړې او ډېر وخت د کوټې په پوهنتون کې د پښتو څانګې مشر او استاد ؤ . پردې سر بیره پیاوړی فولکلوریست، پوخ لیکوال، حساس شاعر او د خپلې مورنۍ ژبې پښتو لوی خدمتګار وو.

له ارواښاد پوهاند سیال کاکړ نه شاوخوا څلوېښت کتابونه پاتې دي چې زیاتره ولسي ادبیاتو او فوکلور په باب څېړنیز آثار دي او یو شمیر یې د ده د خوږې شاعرۍ ټولګې دي.

د استاد سیال کاکړ پر مړینه پښتو ژبې یو سیال فوکلور پېژندونکی، وتلی څېړونکی، یاد شاعر او یو مهربان استاد له لاسه ورکړ چې تشه به یې تر ډېرو اوږدو کلونو محسوسه وي.

د استاد پروفیسور ولي محمد خان سیال کاکړ اروا دې ښاده او یادونه دې یې تلپاته وي.»

د دې کرښو د لیکلو په ورستیو شېبو کې د استاد معصوم هوتک یو علمي پیام په افغان جرمن پورټال کې د خپرېدو لپاره راته راورسید چې د سیال کاکړ پر علمي او فرهنګي ژوند یې رڼا اچولې ده. په یاد پورټال کې مې تر خپرولو وروسته اړینه وګڼله چې د دې لیکنې د لا غنا په خاطر یې د دې لیکنې په پای کې خوندي کړم:

«د خواشینوونکو خبرونو په لړ کې پرون له کابله یو دوست راته ولیکله چې د افغانستان د علومو اکاډیمۍ ځو پخواني د ګوتو په شمار پاته غړي له اکاډیمۍ څخه منفک سول. ظاهراً به ئې د سِن ډېروالی ورته پلمه ګرځولې وه. د زړه په خواشینې سوم او دا خواشیني مي لا پر ذهن و فکر پرته وه چې په تعقیب ئې بل دوست حال راکړ چې سیال کاکړ وفات سو.

**انا لله و انا الیه راجعون .**

د سیال کاکړ پر وفات خو به د خپل عادت له مخي مرثیه بل وخت ته پرېږدم ، سمدلاسه به دا ځو کرښي ددغه پښتانه سیال په یاد وکاږم:

ارواښاد ولي محمد خان سیال کاکړ د جنوبي پښتونخوا له وتلو او نومیالیو لیکوالو او محققینو څخه وو. د تحقیق عمده ساحه ئې د پښتني فولکلور موندل، راغونډول او خپرول او همدغه شان تذکره لیکنه وه. په دې برخه کي ئې درنې برياوي په برخه سوي دي او د هغه چا له پاره ئې د آن د پاسه مواد برابر کړي دي چې د پښتني فولکلوریک ادب په باب د څېړني خیال لري.

له سیال کاکړ سره زما غیابي پېژندګلوي دده د آثارو له لاري وه خو په ۱۹۹۰ع کال د کوټي په ښار کي مو د مخامخ پېژندګلوۍ موقع برابره سوه. ښه د میني خوږ مجلس مو سره وکړ. دغه وخت ما د مولوي صالح محمد هوتک " پاشلي ویناوي" کتاب له کراچي ښار څخه خپورکړی او یو ټوک مي ده ته هم استولی وو. د کتاب پر محتوا مو ښې اوږدې خبري وکړې. تر دې مخامخ خبرو وروسته مو نو تیلفوني اړیکي هر وخت لرلي. دغه راز مو د کندهار پوهنتون له خوا په جوړ سوي سیمینار او د راز د کوټي اکېډیمي له خوا د " پښتو او جهانیت" په نامه د جوړ سوي سیمینار پر وخت هم د کوټي په سرینا هوټل کي لیده کاته میسر سول.

دغه وخت سیال صاحب خپل زیات شمېر آثار هوټل ته زما له پاره راوړي ول چي اوس زما د کتابتون یوه ځانګړې تاخچه په ډکه ده.

سیال صاحب به هروخت د افغانستان په علمي هستیو ویاړ کاوه. د افغاني پوهانو په آثارو به د زړه له کومي خوشاله کېده. د افغانستان علمي او اکاډمیکو شخصیتونو هم هر وخت سیال کاکړ د خپلي فرهنګي لاري ملګري باله. په زیاترو علمي کنفرانسونو اوسیمینارونو کي ئې بلنه ورکوله او ده به هم برخه پکښې اخیستله. له علامه حبیبي او علامه رشاد سره خو ئې مینه دومره زیاته وه چي زما په مخ کي به ئې د هغوی د نامه له اورېدلو سره تر سترګو بې اختیاره اوښکې راغلې. سیال صاحب تل د افغانستان خواخوږی پاته سوی وو او افغانستان ته ئې د خپل ابایي وطن په سترګه کتله. په غم ئې غمجن او په خوښی ئې ښادمن وو. له افغانستان سره دده د دوستۍ لوی ثبوت دا وو چي د خپل ټول عمر په زیار راغونډ سوي کتابونه او ځیني خطي نسخې ئې د افغانستان اکاډمی ته وبخښلې.

سیال صاحب له ډېر وخت راهیسي ناروغه وو. د ناروغۍ پر وخت به مي هر وخت د کوټي له دوستانو څخه دده پوښتنه کوله او سلامونه به مي ورلېږل. خو پښتانه وایي چي مرګی سته، ښادي نسته. موږ په داسي حال کي د سیال صاحب پر وفات ژاړو چي پر مېنه مو د مصیبتونو په اورولو کي د اسمان خروښ لا سوړ سوی نه دئ.

زما روغتیایي وضع اوس ددې نه ده چي د خپل دغه دوست او اشنا په باب دي لکه څرنګه چي ښایي، تفصیلي لیکنه وکاندم. د همدې څو کرښو په لیکلو سره ددغه مرحوم روح ته د پاک خدای له خوا د مغفرت دوعا کوم . ډېرانتظار په کار دئ چي ددغه شان هستیو ځای دي ډک سي.

آشاوا ــ کاناډا
۱۸مه د جون ۲۰۲۲ع

www.dawatmedia24.com